# د حمزه په غزلَ کښي پښتني عناصر

په اوسني پښتو شاعري کي که څوک کتنه کوي، نو ضرور هغه ته حمزه ورپه یادیږي. حمزه پوخ او دروند سپین ږیری‌دی اود خیبر په زړه کي ژوند کوي، چیري چي د پښتنو د تهذیب زړه هم دی.

د حمزه کره وړه، دده وینا، راشه درشه اودژوندانه ټول مظاهر او دده شخصیت او فکر او هنر ټول د پښتانه دي، زه په دې عصر کي هم دی د پښتو غزل استاد، د خوشحال اورحمان پر گدی ناست گڼم.

د حمزه شخصیت او سیرت دپښتنو دزاړه تهذیب او فکر یوه ژوندی نمونه ده، د شرقي کلتور او د تاریخ ورکي رڼاوي دده په تندي کښي بریښي. دانسانانو داوسني علم او فکري جریانه سره، دحمزه فکري تخلیقات د تاریخ او روحانیت او تصوف او پښتنوالي په پروني کي نغښتي ځي، او دده دغه خصوصیات دي، چي د هر فکري مکتب شاگردان حمزه او دده هنر خوښوي، او داسړی نن دپښتنو یو مسلم ادبي شخصیت گڼله سي.

د پېښور په ادبي حلقو کښي حمزه په درنه سترگه لیدل کیږي، دهرفکر خاوند که نوی وي که زوړ، که د مترقي ادب پر خوا وي، که څه بل فکر ولري، ټول حمزه د بزم مشر او دهنر استاد گڼي، زلمي دده احترام هسي کوي لکه زاړه ئې هم هغسي دروند گڼي لکه زلمي.

حمزه په ژوندانه باندي د غاير نظر خاوند دی، په اجتماعي مسائلو کي خاص او پاخه فکرونه لري. ماضي له اوس او آئنده سره ښه نښلولای سي، شعرئې لکه نثر، او نثر ئې لکه شعر، خوږ روان، اغیزمن اود سهلو وږ دی.

په پښتوکښي د حمزه آثار څه نظم څه نثر ډير دی، بعضي ئې چاپ اوخپاره سوي هم دي. او دده آخرنی کتاب غزوني اوه کاله مخکي خپور سو، دا کتاب دحمزه د هنر يعني د غزلي بهترينه مجموعه ده، او څه نور اشعار هم لري.

زه د حمزه دهنر ښکلي او جامع مظهر هم دده غزل گڼم، نورچي هر څه هنري آثار ولري، ټول دده د غزلي د بداعت تر سیوري لاندي راځي، اود حمزه غزل د اوسني پښتو ادب پر اسمان لکه روڼ ستوری داسي بربښي.

د حمزه غزل لکه روان سيند په نويو زمزمو ورو ورو بهيږي. ظاهراً خاموشي اوسکون او متانت لري، خوپه باطن کښي د توپانو غوندي موجونه پراته دي. الفاظ ئې نرم او ملائم او متوازين دي، خومعاني اومطالب ئې خوځوونکي دي. اود پښتنو دفکر او تخيل غوند اوکره مواد پکښي راټولوي. نو ځکه د حمزه هنر د پښتني فکر مظهر دی، اوپه عاشقانه مضامينو کښي هم دغسي جوله ښکاره کوي. وگورئ په دې غزل کښي ځوني د پښتني فکر عناصر سره يو ځاي سويدي:

سوي مي نـــظر لکه پتنـــگ لـــيدلی دی
ښه د شمـــعي رويو مي قـــلنگ ليدلی دی
نن د رقيب سترگو کښي پيغام د صلحي ښکاري
ده پرون زموږ د سترگو جنـــگ ليدلی دی
سترگي دي چي غشي گـــرتوي زمانظر ته
تا د پښتنو زلميو جنـــگ ليدلی دی



تاله يم راغلی هغه ته وي کـــه نه وي؟
څوک خو مي شايد چي ستا په رنگ ليدلی دی
لاس دي صراحی ته داسي کم ولي ساقي ځي؟
چيرته کوم زاهد دي په زړه تنـــگ ليدلی دی
تيټ به د"حمزه" نظر سي ستـــا مغل نظر ته
دې پښتون چي جور د فرنـــگ ليدلی دی

د عشق پ دنيا کښي تکبر او ځان ځاني نه ځائيږي، مين تل دميني په سوزوگداز کي د معشوق پر درگاه يو متواضع نيازمن وي، مگر د حمزه په عاشقی کښي دپښتني خودی مظاهر داسي ښکاري :

ما کوز ورته لېمه کړه، زما سر نه تيـــتېده
شايد چي په الفت کښي هم افغان پاته کيدم

په يو بله غزله کښي خپل عشق ته دسرکوزی داسي پېغور ورکوي :

دا سرکوزي پښتونه عشقه ولې؟
ستا د زلموهغه بگړی څه سوي؟

د حمزه هنري مضمون آفريني هم ډير خله، قومي او پښتني جوله لري، کله چي د عشق د ترخو او معشوق د جفا لپاره چاره لټوي نو هم پخپل قومي ژوند کښي دهغه لپاره داسي علاج مومي :

ستا د ترخو به دا علاج وي چي په کـــور درسم
ننگ د پښتو به دي ميلمه ته کړي خوږې سترگي

په دې ډول دحمزه په غزل کښي د خپلي قومي دنيا نقشه کښله کيږي، دده د تخيل اصلي محور او قالب هم دغه پښتنواله ده، د هنر په تخليق کښي اصلي مسئله هم خپل قومي دود او چال دی، او هغه چي لوارگه يا پښور کښي د پښتنو څخه ويني، پخپل شعر کښي تصوير راکاږي، وگورئ په دې غزل کښي څنگه حمزه د يوه سوچه پښتون په دودخبري کوي :

د هغه سترګو پښتنو خبري
ښنګه درنې وي د درنو خبري؟
دا وستری ژوند دي مبارک سي میني !
زده چي اشنا کړې په لېمو خبري
زاهده ! پرېږده د تسپو خبري
کوي ماحول د زولنو خبري
درنه به وانوړمه پوي سوي کنه؟
درته مي وکړې په پښتنو خبري
د تندي ګونجي دي، مغل خو نه یم
چي کوې نن د تاترو خبري
دا بوګنېدلي هوسې سترګي ستا
وکړي ناڅاپه د زمرو خبري
د "حمزه" زړه ته دلاسا ورکوي
دادي ارمانه ! د زلمو خبري

**او په پاي کښي دحمزه يو بله غزل هم راوړم، چي دده د هنري لياقت ښه نمونه ده، او موږ ګورو چي حمزه د لواړګي پښتون سپين ږيري د مليت له قافلې سره يوځاي، د حجاز پرلوري رهي دی، اومستقبل ته د ماضي روايات ورنقلوي، اما په عين دغه حال کښي دحال تقاضا هم نه هيروي، وايي :**

تل به په لار د ميړنو سره ځم
يمه پښتون د پښتنو سره ځم
دمليت نمره ! د پرخي په څېر
ستا ددې شوخو پلوشو سره ځم
دا چي خردهم په ملت ځاروي
زه دهم داسي ليونو سره ځم
پام کوه زه هغه نظر نه يمه
چي به په دود دسپېلنو سره ځم



وايي اغيار چي ددوږخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتنو سره ځم
راستنېدی چي نه سي وخت خونه يم
خود حالت د تقاضو سره ځم
کړمه جهان چي د پښتنون زلمي
د خپلو پيغلو حوصلو سره ځم
وړم مستقبل ته د ماضي روايات
زه دخپل حال د ولولو سره ځم
څو چي راغونډ په يو مرکز يي نکړم
هري تپې ته د جرګو سره ځم
حمزه سفر که دحجاز وي نوهم
زه د پښتون د قافلو سره ځم

...............

(۱) د مجلې د وقايې د نه درلودلو له امله يې ماخذ ونه ليکل سو.